# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

## کنړ
## د پایلي لنډیز
## اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



هغه داخلي بېځایه شوې کورنۍ چې د خاص کنړ په شالی کلي کې اوسېږي د ۱،۳۵۶ کسانو له ډلې څخه دي په کنړ ولایت کې په خیمو او یا آزاده فضأ کې ژوند کوي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کېدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولیږي.

DTM پروګرام، د کډوالی نړیوال سازمان او ملکرو سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایداړو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د تولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هېواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې دریو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

د ۵ موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولیږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۵** ولسوالی وارزول شوي
**۳۵۹** کلي وارزول شول

**۲،۰۴۱**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۰۳،۱۱۲**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۷۵،۸۱۹**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۵،۳۸۳**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۱،۲۵۰**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳،۵۴۶**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۳۱،۵٪)

**۱،۳۵۶**
راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۴ څخه ۱**
کس په کنړ ولایت کې یا داخلي بېځایه شوی دی او یا هم راستنېدونکی (۲۷٪)

**۴ څخه ۱**
کورنی په چېه دره ولسوالی کې ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري (۲۶٪)

**۱۰،۳۳۵**
کسان (۵۸٪) په شیګل او شیلتن ولسوالی کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۳،۴۰۹**
کسان په څوکی ولسوالی کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۹۸۵**
کسان بر کنړ ولسوالی کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اسعد آباد | ۳۶,۸۶۴ | ۲۷,۳۳۸ | ٪۴۳ | ۱۳,۶۶۷ | ٪۲۱ | ۳,۵۴۲ | ٪۱۰ | ۱۳,۶۷۱ | ٪۲۱ | ۲,۶۳۲ | ٪۷ | ۷۷۸ | ٪۲ |
| وټه پور | ۲۹,۸۹۸ | ۷,۶۹۰ | ٪۲۰ | ۵,۸۲۸ | ٪۱۶ | ۴,۴۱۷ | ٪۱۵ | ۱,۸۶۲ | ٪۵ | ۶۹۳ | ٪۲ | ۳۰۱ | ٪۱ |
| نرنګ | ۳۲,۹۷۷ | ۷,۹۲۳ | ٪۱۹ | ۴,۶۰۲ | ٪۱۱ | ۸۰۵ | ٪۲ | ۳,۳۲۱ | ٪۸ | ۵۳۲ | ٪۲ | ۳۸۷ | ٪۱ |
| سرکاني | ۲۹,۷۶۹ | ۱۳,۲۴۴ | ٪۳۱ | ۷,۹۴۵ | ٪۱۸ | ۲,۶۳۹ | ٪۹ | ۵,۲۹۹ | ٪۱۲ | ۲,۱۴۲ | ٪۷ | ۴۲۶ | ٪۱ |
| مروره | ۲۲,۳۲۷ | ۵,۸۴۴ | ٪۲۱ | ۲,۸۱۳ | ٪۱۰ | ۵۳۹ | ٪۲ | ۳,۰۳۱ | ٪۱۱ | ۵۳۲ | ٪۲ | ۲۲۸ | ٪۱ |
| شیګل و شلتن | ۳۱,۹۵۱ | ۱۷,۷۲۶ | ٪۳۶ | ۱۰,۲۴۳ | ٪۲۱ | ۸,۶۷۰ | ٪۲۷ | ۷,۴۸۳ | ٪۱۵ | ۳,۹۹۰ | ٪۱۲ | ۸۳۴ | ٪۳ |
| دره پیچ | ۵۹,۶۶۶ | ۱۳,۲۳۷ | ٪۱۸ | ۷,۸۸۲ | ٪۱۱ | ۵,۵۷۲ | ٪۹ | ۵,۳۵۵ | ٪۷ | ۲,۵۵۵ | ٪۴ | ۳۳۴ | ٪۱ |
| څوکۍ | ۳۹,۰۰۶ | ۲۰,۶۹۱ | ٪۳۵ | ۱۲,۷۰۷ | ٪۲۱ | ۱۱,۲۳۹ | ٪۲۹ | ۷,۹۸۴ | ٪۱۳ | ۲,۱۱۰ | ٪۵ | ۱,۲۷۵ | ٪۳ |
| خاص کنړ | ۳۸,۲۳۸ | ۱۴,۰۱۷ | ٪۲۷ | ۸,۹۲۸ | ٪۱۷ | ۴,۳۷۷ | ٪۱۱ | ۵,۰۸۹ | ٪۱۰ | ۲,۰۶۵ | ٪۵ | ۳,۶۲۸ | ٪۹ |
| دانګام | ۱۸,۴۷۸ | ۵,۳۵۶ | ٪۲۲ | ۱,۱۷۷ | ٪۵ | ۵,۴۴۹ | ٪۲۹ | ۴,۱۷۹ | ٪۱۸ | ۱۴,۹۵۹ | ٪۸۱ | ۲۳۷ | ٪۱ |
| برکنړ | ۲۳,۹۹۴ | ۲۰,۷۹۹ | ٪۴۶ | ۱۱,۰۴۶ | ٪۲۵ | ۳,۲۹۷ | ٪۱۴ | ۹,۷۵۳ | ٪۲۲ | ۱,۱۱۱ | ٪۵ | ۵۵۶ | ٪۲ |
| غازي آباد | ۲۰,۴۰۲ | ۲,۵۶۸ | ٪۱۱ | ۱,۲۰۵ | ٪۵ | ۲,۰۵۱ | ٪۱۰ | ۱,۳۶۳ | ٪۶ | ۱۶۸ | ٪۱ | ۵۳ | ٪۰ |
| چپه دره | ۳۳,۸۷۵ | ۶,۰۹۹ | ٪۱۵ | ۴,۱۰۴ | ٪۱۰ | ۵,۵۷۹ | ٪۱۶ | ۱,۹۹۵ | ٪۵ | ۴۱۳ | ٪۱ | ۳۰ | ٪۰ |
| نورګل | ۳۴,۵۱۶ | ۱۲,۳۴۹ | ٪۲۶ | ۹,۶۱۰ | ٪۲۱ | ۳,۴۸۴ | ٪۱۰ | ۲,۷۳۹ | ٪۶ | ۱,۴۲۵ | ٪۴ | ۲,۱۶۸ | ٪۶ |
| ناړی (نړئی ) | ۳۰,۱۵۴ | ۴,۰۵۰ | ٪۱۲ | ۱,۳۵۵ | ٪۴ | ۳,۰۳۱ | ٪۱۰ | ۲,۶۹۵ | ٪۸ | ۵۶ | ٪۰ | ۱۵ | ٪۰ |
| مجموعه | ۴۸۲,۱۱۵ | ۱۷۸,۹۳۱ | ٪۲۷ | ۱۰۳,۱۱۲ | ٪۱۶ | ۶۴,۶۹۱ | ٪۱۳ | ۷۵,۸۱۹ | ٪۱۱ | ۳۵,۳۸۳ | ٪۷ | ۱۱,۲۵۰ | ٪۲ |

* د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي ادارې *(NSIA)* اټکل

سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰ د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪




د څښـاک پاکـو اوبـو سرچینـو تـه د لاسرسي نشـتون څینـې داخلي بېځایه شـوي او راسـتنېدونکي کورنـۍ دې ته اړ کړي چې اوبه له ټانکرونـو نه په بیه وپلورې. ډېرى کورنۍ نشي کـولای چې پاکې اوبه وپلـورې او دې ته اړ کېږي چې ناپاکې سـطحي اوبه وکاروي. © IOM ۲۰۱۸

## تګلاره

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تر کتنې او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې دی ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څنګه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکې کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خو سکټورېزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لړو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوی غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په کنړ ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۰،۵٪ یې ښځې دي.

**۲،۰۴۱**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۵۸**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنېدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۸٪)

**۱۰**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۰،۵٪)

**۷۵۴**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۶٪)


**۲،۰۳۱**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۹،۵٪)

**۳۳۲**
څو سکټوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۶٪)


**۵،۷**
په هره ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۷۸۸**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۹٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کنړ




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | کنړ



# بهرنيو هېوادونو څخه راستېدونکي

راستېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنيو هېوادونو کې لږ تر لږه د شپږو مياشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سيمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بيا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته يې د رضاکارانه راستېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنيو هېوادونو څخه کنړ ولايت ته د راستېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۷٪ زياتوالی ښيي خو په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۵۰٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې د تېر کال په پرتله ۸۶٪ کموالی ښيي.

**۱۰۳،۱۱۲**
بهرنيو هېوادو څخه راستنېدونکي

**۱۰۲،۲۳۲**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۹۹٪)


**۵۵،۳۶۳**
له ايران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۵۴٪)

**۰**
ايران څخه راستنېدونکي


**۴۶،۸۶۹**
له ايران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۴۶٪)

**۸۸۰**
غير کاونډيو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۱٪)


بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کنړ





بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کلنی بهير | کنړ





اروپا او ترکيه څخه راستنېدونکي | کلنی بهير | کنړ




پاکستان څخه راستنېدونکي | کلنی بهير | کنړ




د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | کنړ



# رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ يا وسله والو جګړو، تاوتريخوالۍ، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او د طبيعي پيښو يا د انسان په لاس جوړې شويو پيښو څخه د خونديتوب په موخه خپلو سيمو څخه بېځايه شوي دي او ارزول شويو/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۷۵،۸۱۹**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان

**۶۲٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۱۳،۶۷۱**
اسعد آباد ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان – د ولايت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۳۸٪**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي


**۰**
داخلي بېځايه شوي په غير رسمي سيمو کې مېشت دي

**۹۲٪**
په خپل اصلي ولايت کې بېځايه شوي


رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنۍ بهير | کنړ





د اصلي ولايت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کنړ





رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | پناه ځای | کنړ




د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کنړ



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)





په عمومي توګه کنړ ولایت له ټولټال ۱۷۸،۹۳۱ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي چې ۵۸٪ (۱۰۳،۱۱۲ کسان) راستنېدونکي او ۴۲٪ (۷۵,۸۱۹ کسان) داخلي بېځایه شوي دي. په لاندې جدول کې د کنړ ولایت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زیاتو بېځایه شویو او راستنېدونکو راتګ څخه اغیزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د کنړ ولایت ۳۵۹ ارزول شویو کلیو څخه ۶٪) د ټول ولایت ۲۵٪ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زیانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچینې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زیانمنو کلیو څخه ۸ کلي یې په اسعد آباد ولسوالۍ کې موقعیت لري او د دې جدول ۳۵٪ (۱۵,۹۸۵) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري


| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | سک توحید بابا | شیګل و شلتن | ۴,۹۶۴ |
| ۲ | غازي آباد | نورګل | ۳,۹۳۰ |
| ۳ | نو آباد | اسعد آباد | ۳,۷۷۲ |
| ۴ | کلمنی | خوکۍ | ۲,۶۷۴ |
| ۵ | روګی | خوکۍ | ۲,۴۸۸ |
| ۶ | اوسی | بر کنر | ۲,۴۵۰ |
| ۷ | نوآباد سنګولی | خوکۍ | ۲,۳۷۶ |
| ۸ | سیوری کلی | بر کنر | ۲,۲۲۶ |
| ۹ | برتیا شاه | اسعد آباد | ۱,۸۹۱ |
| ۱۰ | بردردونه | اسعد آباد | ۱,۸۸۰ |
| ۱۱ | بهر آباد | خاص کنر | ۱,۸۲۷ |
| ۱۲ | سکی | اسعد آباد | ۱,۷۸۱ |
| ۱۳ | هجرت کلی | اسعد آباد | ۱,۷۳۴ |
| ۱۴ | کریله | اسعد آباد | ۱,۷۲۹ |
| ۱۵ | شکی | اسعد آباد | ۱,۷۱۲ |
| ۱۶ | ګتو قلعه | خوکۍ | ۱,۶۷۳ |
| ۱۷ | جاجی کلی | بر کنر | ۱,۶۵۲ |
| ۱۸ | خاکه قلعه | خوکۍ | ۱,۶۵۲ |
| ۱۹ | بلوسه کلی | بر کنر | ۱,۵۷۹ |
| ۲۰ | کارمر | اسعد آباد | ۱,۴۸۶ |
| | | مجموعه | ۴۵,۴۷۶ |

## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| اسعد آباد | ۱۳,۶۶۷ | ۱۳,۶۷۱ | ۲۷,۳۳۸ |
| برکنړ | ۱۱,۰۴۶ | ۹,۷۵۳ | ۲۰,۷۹۹ |
| خوکۍ | ۱۲,۷۰۷ | ۷,۹۸۴ | ۲۰,۶۹۱ |
| شیګل و شلتن | ۱۰,۲۴۳ | ۷,۴۸۳ | ۱۷,۷۲۶ |
| خاص کنړ | ۸,۹۲۸ | ۵,۰۸۹ | ۱۴,۰۱۷ |
| سرکانی | ۷,۹۴۵ | ۵,۲۹۹ | ۱۳,۲۴۴ |
| دره پیچ | ۷,۸۸۲ | ۵,۳۵۵ | ۱۳,۲۳۷ |
| نورګل | ۹,۶۱۰ | ۲,۷۳۹ | ۱۲,۳۴۹ |
| نرنګ | ۴,۶۰۲ | ۳,۳۲۱ | ۷,۹۲۳ |
| وټه پور | ۵,۸۲۸ | ۱,۸۶۲ | ۷,۶۹۰ |
| چپه دره | ۴,۱۰۴ | ۱,۹۹۵ | ۶,۰۹۹ |
| مروره | ۲,۸۱۳ | ۳,۰۳۱ | ۵,۸۴۴ |
| دانګام | ۱,۱۷۷ | ۴,۱۷۹ | ۵,۳۵۶ |
| ناړی (نړئ ) | ۱,۳۵۵ | ۲,۶۹۵ | ۴,۰۵۰ |
| غازي آباد | ۱,۲۰۵ | ۱,۳۶۳ | ۲,۵۶۸ |
| عمومي مجموعه | ۱۰۳,۱۱۲ | ۷۵,۸۱۹ | ۱۷۸,۹۳۱ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي


دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه چې هلته یې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه یوې بلې سیمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۶۴،۶۹۱**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي


**۶۰٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي

**۱۰۰٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي

**۰٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي



د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان


راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا یې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقوقو سرغړونې، د خونديتوب اندیښنې او طبیعي پیښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پیښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۳۵،۳۸۳**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي


**۹۱٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي

**۵ څخه ۴**
کسان په دانګام ولسوالۍ کې راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان دي (۸۱٪)

**۵ څخه ۲**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۴۲٪ کسان دانګام ولسوالۍ ته راستانه شوي



# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي، کډوال او هغه کسان شامليږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښي وي.


**۱۱،۲۵۰**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۳،۵۴۶**
اروپایي هېوادونو ته تللي دي (۳۱,۵٪)


**۱۶،۴۳۹**
ایران ته تللي دي (۰,۱٪)

**۷،۲۹۳**
پاکستان ته تللي دي (۶۵٪)


د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کنړ





د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | کنړ





بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | کنړ





ترکیه او اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | کنړ




ایران ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | کنړ




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | کنړ



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یادښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | اسعد آباد | ۲۷,۳۳۸ |
| ۲ | بر کنړ | ۲۰,۷۹۹ |
| ۳ | څوکۍ | ۲۰,۶۹۱ |
| ۴ | شیګل وشلتن | ۱۷,۷۲۶ |
| ۵ | خاص کنړ | ۱۴,۰۱۷ |
| | عمومي مجموعه | ۱۰۰,۵۷۱ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | څوکۍ | ۵۰۴ |
| ۲ | دانګام | ۴۲۷ |
| ۳ | اسعد آباد | ۱۶۸ |
| ۴ | نرنګ وبادیل | ۹۷ |
| ۵ | بر کنړ | ۶۶ |
| | عمومي مجموعه | ۱,۲۶۲ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بر کنړ | ۹۸۵ |
| ۲ | دره پیچ | ۹۶۵ |
| ۳ | خاص کنړ | ۹۶۲ |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۲,۹۱۲ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیايي خانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شیګل وشلتن | ۱۰,۳۳۵ |
| ۲ | اسعد آباد | ۷,۰۴۷ |
| ۳ | سرکانی | ۴,۵۶۲ |
| ۴ | خاص کنړ | ۲,۶۵۵ |
| ۵ | دره پیچ | ۲,۶۰۴ |
| | عمومي مجموعه | ۲۷,۲۰۳ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځی ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځی >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بر کنړ | ۲,۵۶۶ |
| ۲ | چپه دره | ۱,۶۰۸ |
| ۳ | خاص کنړ | ۱,۳۵۰ |
| ۴ | نورګل | ۴۴۴ |
| ۵ | شیګل وشلتن | ۳۸۵ |
| | عمومي مجموعه | ۶,۳۵۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | څوکۍ | ۳,۴۰۹ |
| ۲ | اسعد آباد | ۲,۸۹۰ |
| ۳ | خاص کنړ | ۲,۲۷۴ |
| ۴ | شیګل وشلتن | ۲,۲۱۱ |
| ۵ | سرکانی | ۱,۹۹۰ |
| | عمومي مجموعه | ۱۲,۷۷۴ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | کنړ




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### یوه کورنۍ چې د امنیت او ثبات غوښتونکې ده

۵۵ کلن صاحب زرین د کنړ ولایت له دانګام ولسوالۍ څخه دی. هغه اته لورګانې لري چې درې یې واده شوي او پنځه نورې لورګانې یې او مېرمن یې له هغه سره ژوند کوي. هغه یو زوی هم درلوده چې په ۲۲ کلنۍ کې کله چې په هلمند ولایت کې عسکر وه د بلواګرو لخوا ووژل شو. د هغه کورنۍ تراوسه د خپل د زوی په غم کې ناسته ده.

صاحب زرین د خپل د پلار په ځمکه کې د بزګر په توګه کار کاوه ترڅو خپلې کورنۍ ته خواړه چمتو کړي. هغه په خپله کورنۍ کې یوازینی عاید لرونکی کس وه. هغه د خپلې اوه کسیزې کورنۍ سره په درې اتاقه کور کې ژوند کاوه.

د صاحب زرین په ولسوالۍ کې د تیرو څو کلونو راهیسې په سرحد کې جنګ دوام لري چې د کلیوالو په معیشت او عاید یې منفي اغیزه کړې. دې پېښې په صاحب زرین هم اغیزه کړې وه. هغه په سیمه کې د ډزو له امله ځاروي څرولو ته نشو وړلای.

د ۲۰۱۸ کال د مارچ میاشتې په ۲۳ نېټې هغه پرېکړه وکړه چې خپل کلی پرېږدي او له خپلې کورنۍ سره بل ځای ته ولاړ شي ځکه چې د هغوی کلي کې هاون مرمۍ لږېدلې. دا کورنۍ د ۵،۴۴۹ داخلي بېځایه شویو له ډلې څخه وه چې دانګام ولسوالۍ یې پرېښې ده. هغوی خپل ډېر شیان شاته پرېښودل. اوسمهال دا کورنۍ د صاحب زرین د مېرمنې خپلوانو کور کې اوسېږي. هغه د خپل د ژوندانه خرابو شرایطو په اړه خبرې کوي. ۷ کسیزه کورنۍ په یوې کوټه کې ژوند کوي چې یو تشناب هم نلري. هغوی خواړه هم نشي پیدا کولای او د ګاونډیو لخوا چې ورته څه خواړه ورکول کېږي په همغه خپل ژوند مخکې وړي.

”زه دولت او بشردوستانه سازمانونو څخه د بېړنیو مرستو غوښتنه کوم. زه په دولت هم غږ کوم چې زموږ په سیمه کې امنیت او ثبات راولي ترڅو خپلو کلیو ته ستانه شو.“

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.



د ډېریو نورو داخلي بېځایه شویو په شان صاحب زرین هم خپل د کورنۍ اساسي اړتیاوې نشي پوره کولای او د دولت او بشردوستان سازمانونو بیړنیو مرستو ته په تمه ده. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

په همغږي سره

Co-funded by the European Union

ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION

NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS

MOFAT

Canada